# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دولسم کال، یوسلو څلور دېرشمه ګڼه د ۱۳۹۷ د زمري میاشت

د افغانستان بانک




## بانک‌های مرکزی جهان در تلاش افزایش ذخایر طلا







نودونهمین سالروز استرداد استقلال افغانستان مبارک!

استقلال، از افتخارات ملی ماست!

پول افغانی نیز  افتخار ملی ماست!

---

د هېواد د خپلواکۍ نهه نوي یمه کلیزه مبارک!

خپلواکي، زمونږ ملي ویاړ دی!

افغانۍ هم زمونږ ملي ویاړ دی!

## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حمیدالله فیضی و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: آمریت عمومی دفتر ریاست، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸


www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+

## د دې ګڼې مطالب


زعفران افغانستان برای چهارمین سال متوالی جایزه بهترین زعفران...

د افغانستان بانک نوی معلوماتی مرکز جوړ کړ

مذاکرات هیئت د افغانستان بانک با هیئت صندوق بین المللی پول

د افغانستان بانک لومړی مرستیال د یوه ښوونیز ورکشاپ په ...

سرو زرو لپاره تقاضا د زیاتېدو په حال کې ده

بهبود رشد اقتصادی، ارائه خدمات عامه و ایجاد اشتغال

د افغانستان زعفران؛ بیا هم په لومړي مقام کې

بانک‌های مرکزی جهان در تلاش افزایش ذخایر طلا

د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

مختصری به اقتصاد جهان و افغانستان

هارتوګ شفر: نړیوال بانک افغانستان ته د اوږد مهاله مرستو ډاډ...

خطوط آهن، راه ارتباطی مطمئن جهت توسعه تجارت

مختصری در مورد اوراق قرضه

د نړیوال بانک مرستو ته ځغلنده کتنه

بیوزلی او بې کاری د افغانانو ستري ستونزې

چگونگی تنظیم اقتصاد خانواده

شرایط و شیوه های جذب مشتری



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



# زعفران افغانستان برای چهارمین سال متوالی جایزه بهترین زعفران دنیا را از آن خود کرد

زعفران یا طلای سرخ در میان محصولات زراعتی کشور از مزیت و بهای خوبی برخوردار است. این محصول می تواند نقش مؤثری را در اشتغال زایی در بخش زراعت و افزایش تولید ناخالص داخلی در کنار سکتورهای خدمات و صنعت ایفاء نماید که به تبع آن درآمد ارزی را نیز بالا برده که در امر سیاست گذاری های اقتصادی مؤثر واقع خواهد شد.

تولید و صادرات زعفران افغانستان به یکی از موضوعات مهم در بازارهای داخلی و جهانی تبدیل شده است که نمی توان از اهمیت و جایگاه استراتیژیک آن در سکتور زراعت و در کُل حوزه اقتصاد افغانستان چشم پوشی کرد.

بادرنظرداشت محیط کشت، کیفیت، قیمت و ارزآوری این گیاه، نیاز است تا زارعین و تولید کننده گان زعفران در قسمت ترویج، کشت و بسته بندی این نبات تشویق و حمایت شوند و زمینه فراهم گردد تا آنها در پهلوی دیگر نباتات به کشت و تولید بیشتر زعفران بپردازند.

افزایش در میزان کشت، حاصلات، بسته بندی و صادرات زعفران فُرصت های شغلی را برای مردم ایجاد کرده و وسیله کسب درآمد خوب، رشد تولید ناخالص داخلی، ورود اسعار و تقویت اقتصاد کشور می شود که سرانجام اسعار بدست آمده از صادرات زعفران میتواند برای تأمین سیاست های پولی معقول و حفظ ثبات قیم مؤثر واقع گردد.▣

# د افغانستان بانک نوی معلوماتی مرکز جوړ کړ





د ۱۳۹۷ کال د زمري میاشت ۸ مه - د افغانستان بانک د بانکدارۍ د اسانتیا په رامنځته کولو، د هېواد د بانکونو فعالیتونه له نړیوالو معیارونو سره د برابرولو او په نوي ټکنالوژۍ د سمبالولو په موخه د معلوماتو د راټولو مرکز یا (Data Center) ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د افغانستان بانک لوی رئیس ښاغلي خلیل صدیق وویل چې د معلوماتو مرکز او پاور روم د افغانستان بانک له خپلې بودیجې څخه جوړ شوي دي چې په نړیوالو ستنډرډونو ولاړ دي او د افغانستان بانک له لویو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي.

همدا رنګه ښاغلي صدیق د معلوماتي مرکز د جوړولو په موخه د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو له کړندیو چارو او همکارۍ څخه مننه وکړه چې د دې معلوماتي مرکز په جوړولو کې له هیڅ راز هڅو سپما نه ده کړې.

په همدې حال کې د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمر ښاغلي عبیدالله عبیدي وویل چې په هېواد کې ورځ تر بلې د بانکدارۍ نظام په مډرنې او عصري ټکنالوژۍ سمبال کېږي چې له یوې خوا روښانه رامنځته کوي او له بل پلوه د هېواد اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره وي او په مالي معاملاتو کې آسانتیاوې برابروي.

د یادونې وړ ده چې د معلوماتي مرکز او پاور روم په پرانېسته کې د افغانستان بانک د لوی رئیس په ګډون د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر او د ګڼ شمېر آمریتونو آمرینو او مرستیالانو ګډون کړی وو. ▣

# مذاکرات هیئت د افغانستان بانک با هیئت صندوق بین المللی پول



هیئت اعزامی د افغانستان بانک تحت ریاست محترم واحد الله نوشیر معاون اول د افغانستان بانک به تاریخ ۲۷ الی ۳۰ سرطان ۱۳۹۷ با هیئت صندوق بین المللی در باکو آذربایجان تدویر جلسه نمود. هدف از این نشست بررسی تطبیق برنامه مشترک اقتصادی افغانستان با صندوق بین المللی پول عنوان شده است.

در این مذاکرات طرفین ضمن بررسی وضعیت، اقتصادی افغانستان تکمیل موفقانه مرحله سوم برنامه مشترک اقتصادی، روی وضعیت تحولات اقتصادی خصوصاٌ تطبیق اهداف مقداری معطوف به تحکیم و تقویت ثبات اقتصاد کلان، ارزیابی اهداف ناظر بر اصلاحات ساختاری در عرصه تقویت نظام مالی و بانکی کشور، بررسی وضعیت شاخص ها و تحولات اقتصادی خصوصاً متغیر های اقتصاد کلان، نرخ تورم، بیلانس تادیات و ذخایر اسعاری کشور بحث نموده، و عملکرد افغانستان در زمینه پیشبرد برنامه های مشترک اقتصادی را مورد استقبال قراردادند.

هیئت صندوق بین المللی پول، عملکرد بانک مرکزی و دولت افغانستان در زمینه طرح و تطبیق سیاست پولی، سیاست مالی و مدیریت ذخایر اسعاری و نیز دستآورد های افغانستان را در زمینه حفظ ثبات شاخص های عمده اقتصادی مورد ستایش قرار داد.

در پایان مذاکرات، رؤسای هیئت های اشتراک کننده ضمن ارزیابی مثبت از نتایج وپیامد های مذاکرات ، موفقیت برنامه موجود را درجهت ثبات اقتصاد افغانستان مهم وحیاتی خواندند.

قابل یادآوری است که در این مذاکرات علاوه بر هیئت د افغانستان بانک، هیئت وزارت محترم مالیه تحت ریاست محترم نجیب الله وردک معیین عواید وگمرکات آن وزارت وآقای کریستوف دینوالد مسئول امور افغانستان درصندوق بین المللی پول با هیئت همراه شان نیزاشتراک ورزیده بودند.▣

# د افغانستان بانک لومړي مرستیال د یوه ښوونیز ورکشاپ په ترځ کې "د نوښت د خلا موډل" په اړه معلومات وړاندې کړل




د ۱۳۹۷ کال د زمري د میاشتې ۷ مه - د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د یوه ښوونیز ورکشاپ په ترځ کې د افغانستان بانک آمرینو او د آمریتونو مرستیالانو ته "د نوښت د خلا موډل" (Invention Gap Model - IGM) په اړه چې د ښاغلي واحدالله نوشیر له نوښتونو څخه وو په بشپړه توګه توضیح کړ.

دغه موډل مخکې تردې د لندن په اکسفورډ، د مالیزیا په اسلامي پوهنتون، د افغانستان په امریکایې پوهنتون کې تشریح شوی چې ډېرو بحثونو وروسته یې د مدیریت او رهبریت په برخه کې ګټور ثابت شوی دی. د دې موډل موخه د رهبریت او مدیریت په برخه کې د نوښت ګرو نظریو راټولول، پلي کول او له بشري ځواک څخه ګټه اخیستل دي.

دغه ښوونیز پروګرام د هغو وړتیا لوړونې د پروګرامونو له ټولګې څخه شمېرل کیږي چې د بشري سرچینو آمریت یې روان کال په پام کې لري او د دې وړتیا لوړونې پیل یې د افغانستان بانک د لومړي مرستیال "د نوښت د خلا موډل" په اړه د معلوماتو په ورکولو سره پیل کړ.

د افغانستان بانک د بشري سرچینو آمر ښاغلي بشرمل پسرلي وویل چې د روان کال په ترځ کې د وړتیا لوړونې لپاره ۹ پروګرامونه په پام کې لري چې له هغې ټولګې څخه (چارو وده، په لوړو زده کړو د کارمندانو سمبالتیا، لنډ مهاله تریننګونه او تخصصی پروګرامونه رانغاړي) پلي کړي چې ځینې یې اوسمهال چې په لوړو او تخصصي زده کړو د افغانستان بانک د کارمندانو سمبالتیا ده، پیل شوي دي.

ښاغلي پسرلي زیاته کړه چې د کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو او په لوړو زده کړو د هغوی د سمبالتیا په موخه د لیسانس او ماسترۍ لپاره له بېلا بېلو پوهنتونونو سره تړونونه لاسلیک کړي دي، څو د افغانستان بانک ټول کارکوونکي د لیوالتیا له مخې په لومړو زده کړو سمبال او د یوه ځواکمن او نوښتګر مدیریت د رامنځته کولو لپاره لارې چارې هوارې شي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د افغانستان بانک د ستراتیژیک پلان په پام کې نیولو سره هڅه کوي چې د وړ او په کار پوه مدیریت لپاره زمینه برابره کړي او د افغانستان بانک مدیریت د نورو دولتي او خصوصي ادارو په منځ کې یوه بیلګه اداره وګرځوي چې مدیریت یې په نړیوالو معیارونو او ستنډرډونو ولاړ او نا فذه قوانینو په رڼا کې مخ ته ولاړ شي.▣

# سرو زرو لپاره تقاضا د زیاتېدو په حال کې ده

د مرکزي بانکونو د سرو زرو زیرمې د ۲۰۰۸ زیږدیز کال راهیسې د زیاتېدو په حال کې دي او اوس مهال د ۱۹۹۰ راپدېخوا خپلې تر ټولې لوړې کچې ته رسېدلي دي. حال دا چې د سرو زرو پېرنې په زیاته کچه په پیچلو بازارونو کې ترسره کېږي او دا بازارونه د یو څو مرکزي بانکونو تر ولکې لاندې دي.

مرکزي بانکونو د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په اوږدو کې خپلو زیرمو کې ۳۷۱ ټنه نور سره زر اضافه کړي چې ټولیزارزښت یې شاوخوا ۱۷۰ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي. په دې کار سره د مرکزي بانکونو او د داسې نورو رسمي مالي ادارو د سرو زرو د زیرمو کچه ۱.۴ تریلیونه امریکایي ډالرو ته رسېدلې دی (د لا وضاحت لپاره لومړی ګراف وګورئ). برعکس، مرکزي بانکونه د اسعاري زیرمو په توګه ۱۱.۴ ټنه سره زر لري چې شاوخوا ۶۳ سلنه یې ډالر او پاتې ۲۰ سلنه یې یورو جوړوي.

د مرکزي بانکونو د سرو زرو زیرمې چې نږدې ۳۱،۸۰۰ ټنه اټکل کېږي، چې دا شمېره د ۲۰۰۹– ۲۰۱۰ کال راهیسې د ودې په حال کې ده او دا بهیر په ۱۹۷۰ زیږدیز کال کې د سرو زرو د پرېمانه پلورنې وروسته پیل شوی دی. اوس مهال د سرو زرو زیرمې د ۱۹۹۰ لسیزې راهیسې خپلې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلي، سره له دې چې د ۲۰۱۰ کال راهیسې یې یوازې تېر کال (۲۰۱۷) کې تر ټولو ټیټ کلنی زیاتوالی درلوده چې په دې موده کې مرکزي بانکونو یوازې او یوازې ۷۹ ټنه سره زر پېرلي دي. د ټول کال په اوږدو کې د سرو زرو بیې ۱۳ سلنه لوړې شوي چې له دې لارې په ترلاسه شوې ګټه کې زیاتوالی راغلی دی.

په تېرو څو کلونو کې د سرو زرو خالصه پېریدنې په ټولیزه توګه د درېو راغوړېدلو هېوادونو لکه روسیې، چین او قزاقستان د مرکزي بانکونو لخوا ترسره شوي دي (د لا معلوماتو لپاره دویم ګراف وګورئ). همدا ډول په ۲۰۰۸ کال کې له مالي کړکېچ وروسته د نورو راغوړېدلو بازارونو د مرکزي بانکونو لخوا د سرو زرو پېر خپل اوج ته تر رسېدو وروسته بیا په منځنۍ کچه کې پاتې شوي، په داسې حال کې چې د پرمختللو اقتصادونو د سرو زرو زیرمې زیاتره ثابته پاتې شوي دي.

**د سرو زرو د پېرلو لپاره هڅوونکي عوامل**

د سرو زرو متنوع ځانګړنې د سرو زور د زیرمه کولو لپاره د بیلابیل هڅوونکي عوامل څرګندوي. که څه هم روسیې په ۲۰۰۸ زیږدیز کال کې د نړۍ د مرکزي بانکونو د پراخه بهیر سره یوځای د سرو زرو په پېرلو باندې پیل کړی، خو دا بهیر د ۲۰۱۴ زیږدیز کال وروسته د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. دا اقدام د سیاسي او اقتصادي فشارونو او د روسیې په مالي سکتور باندې د امریکې د بندیزونو له امله ترسره شوی دی.

د غیر ډالري شتمنیو په تېره بیا سرو زرو ته د ورته زیرمو زیاتول چې په اسانۍ سره په سیالیت باندې بدلیږي، د لنډمهاله ادایینې بیلانس د فشارونو د کمولو لپاره د هغه د پلورلو اسانتیا یا د نفتو د بیو د دوامداره کمښت په وړاندې د یوه ثابته بودجې د رامنځ ته کولو اسانتیا هغه څه دي چې د سرو زرو ارزښت زیاتوي.

د ۲۰۰۹ کال راهیسې د چین د سرو زرو په پېرنو کې زیاتوالی ښکاره کوي چې بیجینګ غواړي لا زیاته تنوع رامنځ ته کړي او د ډالري شتمنیو څخه چې د چین د زیرمو لویه برخه جوړوي، ځان لرې کړي. د چین د رسمي پولي واحد د نړیوال کولو هلو ځلو تر شا د سرو زرو پراخه زیرمې هم شته دي، لکه څنګه چې ډالري زیرمې د امریکایي پولي ادارو د زیاته اندازه ساتل شویو سرو زرو سره مرسته کوي.

په اروپا او جاپان کې د مرکزي بانکونو لخوا په پراخه کچه پولي عرضه د دې لامل شوې چې اسعار کمزوره شي، دا په


«

داسې حال کې ده چې سياسي پيښې لکه د اروپايي ټولنې څخه د بريتانيې د وتلو پريکړه او د امريکې لخوا پلان شوې سوداګريزه جګړه په تېرو ۱۲– ۲۴ مياشتو کې د يو شمېر آسيايي اسعارو تر څنګ پاونډ او ډالر هم کمزوره کړي دي.

د ځينو مشخصو هېوادونو په شتمنيو باندې د مرکزي بانکونو لخوا د ټکټانې د نرخونو په برخه کې ساختګي فشارونه د دې لامل شوي چې د سرو زرو زيرمو ته ليواتيا زياته شي.

لومړی ګراف: د ۱۹۹۰ لسيزې راهيسې د سرو زرو تر ټولو زياتې زيرمې

د مرکزي بانکونو لخوا د سرو زرو ساتل شوي زيرمې





سرچينه: د سرو زرو نړيواله شورا، GFMS او OMFIF شننه
يادونه: د سرو زرو د زيرمو په اړه معلومات د هغو اټکلونو پر بنسټ دي چې د محاسبوي ميتودونو د توپيرونو له امله د نورو سرچينو سره ورته والی نه لري

د ځينو مشخصو هېوادونو په شتمنيو باندې د مرکزي بانکونو لخوا د ټکټانې د نرخونو په برخه کې ساختګي فشارونه د دې لامل شوي چې د سرو زرو زيرمو ته ليواتيا زياته شي.

دويم ګراف: خالصه پېرنې چې په عمده توګه د دريو مرکزي بانکونو لخوا ترسره کيږي

د نړيوالې منځنۍ کچې په وړاندې د ملي مرکزي بانکونو د سرو زرو زيرمې




سرچينه: د سرو زرو نړيواله شورا، د پيسو نړيوال صندوق او OMFIF شننه

په امريکې کې د انفلاسيون لوړوالی او د ټکټانې زياتېدونکي نرخونو هيلې د سرو زرو لپاره تقاضا زياتوي چې هم د انفلاسيون او هم د مالي بی ثباتی په وړاندې چې په شديده پرمختلونکو اقتصادونو کې د خپرېدو په حال کې دی، ساتنه کوي.

په امريکې کې د انفلاسيون لوړوالی او د ټکټانې زياتېدونکي نرخونو هيلې د سرو زرو لپاره تقاضا زياتوي چې هم د انفلاسيون او هم د مالي بی ثباتی په وړاندې چې په شديده پرمختلونکو اقتصادونو کې د خپرېدو په حال کې دی، ساتنه کوي.

**روسيه د چين ځای نيسي**

د ۲۰۱۷ زيږديز کال په اوږدو کې د مرکزي بانکونو په ډله کې د سرو زرو لپاره د روسيې مرکزي بانک (۲۲۴ ټنه)، ترکيې (۸۶ ټنه) او قزاقستان (۴۳ ټنه) زياته تقاضا درلوده ( د وضاحت لپاره دريم ګراف وګورئ). په هر تېرو اتو کلونو کې روسيه د سرو زرو تر »

ټولو ستر مخکښه هېواد یا دویم لوی پېرېدونکی پاتې شوی دی.
روسیې د ۲۰۰۹ کال راهیسې په خپلو زیرمو کې ۱۱۹۰ ټنه سر زر زیات کړي دي چې د چین د ۷۸۹ ټنه سرو زرو په پرتله چې په دې موده کې دویم ستر پېرېدونکی هېواد پاتې شوی، ډېر زیاتوالی ښکاره کوي. د روسیې د کال د پای زېرمې ۱۸۳۹ ټنو ته رسیږي چې د ټولیزه زیرمو نږدې ۱۸ سلنه جوړوي.

ترکیې د ۱۰۲ ټنه سرو زرو سره ۸۶ ټنه سره زر اضافه کړي چې د سوداګریزو بانکونو لخوا په مرکزي بانک کې د زیرمې په توګه ساتل کیږي. د ترکیې د حکومت دا پالیسي کوچني پانګه اچوونکي هڅوي چې د خپلو سرو زرو زیرمې په سوداګریزو بانکونو کې کیږدي چې بیا د مرکزي بانک په بیلانس شیټ کې ساتل کیږي څو په مالي نظام کې د سرو زرو چارې پراخه کړي.


قزاقستان هم د هرو تېرو پنځو کلونو د محاسبې له مخې د سرو زرو د زیرمو د زیاتولو له پلوه د درېو سترو مرکزي بانکونو په ډله کې راځي. قزاقستان په ۲۰۱۴ کال کې د ۴۸ ټنو سرو زرو د پېرلو وروسته په ۲۰۱۷ کال کې ۴۳ ټنه سره زر پېرلي دي. د قزاقستان رسمي زېرمې د ۲۰۱۱ کال راهیسې ۲۶۷ سلنه زیاتې شوي چې څینې یې د تعویض په پایله کې لاسته راغلي دي. قزاقستان ۳۰۱ ټنه سره زر لري چې د دې هېواد د ټولیزه زیرمو نږدې ۴۱ سلنه جوړوي.

قزاقستان د سرو زرو دریم لوی تولیدوونکی هېواد دی چې د سرو زرو صادرات یې منع کړي څو خپلې زیرمې زیاتې کړي، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۷ کال کې د قزاقستان مرکزي بانک اعلان وکړ چې د هېواد دننه به د سرو زرو کوچنې سکې وپلوري څو یو په ځان بسیا سیاله بازار رامنځ ته کړي.

د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر میاشتې راهیسې چین د سرو زرو د پېر په اړه هیڅ راپور ورکړی نه دی، سره له دې چې په تېرو څو کلونو کې یې تر ټولو زیاتې پېرنې درلودلې دي. دا کار ښکاره کوي چې د چین د People’s Bank of China غواړي چې د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) د برداشت د ځانګړي حق (SDR) په اسعاري ترکیب کې د Renminbi له اضافه کولو څخه په شا شي.

دریم ګراف: د روسیې او ترکیې مرکزي بانکونه تر ټولو زیاتې پېرنې درلودلي

په ۲۰۱۷ کال کې د سرو زرو درې غوره پېرودونکي او پلورونکي، په ټنو




سرچینه: د سرو زرو نړیواله شورا، د پیسو نړیوال صندوق او دOMFIF شننه

په دې کار سره به د سرو زرو د زیرمو په اړه درې میاشتني معلومات د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کال په وروستیو کې خپریدل چې اوس مهال دا خپرونې په ټپه دریدلې دي.

**د بازار بدلونونه**

په تېرو څو کلونو کې د تقاضا په بهیر کې بدلون راغلی دی (د زیاتو معلوماتو لپاره څلورم ګراف وګورئ). د سرو زرو په ټولیزه تقاضا کې د مرکزي بانکونو ونډه د زیرډیز ۲۰۱۳ کال له ۱۴ سلنې څخه په ۲۰۱۷ کال کې ۸ سلنې ته راټیټه شوې ده. د سرو زرو د پانګونې محصولات چې په سر کې یې د مبادلوي سوداګرۍ پیسې (ETFs) راځي، په دې وروستیو کې په چین، جاپان او د آسیا په نورو سیمو کې د سرو زرو کوچني محصولات هم زیات شوي چې په تقاضا کې د کال په کال

بدلونونو عمده لاملونه ګڼل کېږي چې دا بدلونونه نامنظمه بلل شوي دي (د زیاتو معلوماتو لپاره پنځم ګراف وګورئ). په ۲۰۱۳ کال کې د مبادلوي سوداګرۍ پیسو (فنډونو) د ټولیزه پلورنو ۹۱۲ سلنه جوړاوه، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۵ کال کې ۵۴۷ ټنه پېرل شوي دي. دا د تقاضا په برخه کې د کال دننه د بدلونونو تر ټولو سترې بیلګې دي.

دا ډول پانګه اچوونکي د دودیزه مالي ادارو لکه مرکزي بانکونو د پلورلو او د بیا ساتلو پرځای د پېرلو لپاره بېلابېلې هڅوونکي عوامل لري. دوی د زیوراتو او د تکنالوژیکي وسایلو د تولیدوونکو په پرتله چې په فلزاتو باندې د خام موادو په توګه اتکاء کوي، د بازار د بیل ډول علایمو په لټه دي. د تضمیني فنډونو، د مبادلوي سوداګرۍ فنډونو او د داسې نورو له لارې د سرو زرو لپاره زیاتیدونکي تقاضا به بیې لا زیاتې ناثابته کړي او د پولي سیاست د اعلامیو په وړاندې حساسه حالت کې واقع کړي.


ګانې چې د سرو زرو لپاره د تقاضا یوازیني لویه سرچینه ده، په راتلونکو میاشتو او کلونو کې د مخالفو لاملونه سره مخ کېږي. هند چې له چین سره د سرو زرو د تر ټولو لوی بازار د درلودلو لپاره سیالي کوي، د نفتو او نورو سوداګریزو توکو د څلورو کلونو بې ساري ټیټو بیو څخه ځان برخمن کوي. د سرو زرو لپاره د تقاضا په ګډون خصوصي لګښت په تېرو څو کلونو کې د ټیټې انفلاسیون له امله ښه شوی چې دا کار په خپل وار د وارداتو په بیو کې د ټیټوالي له امله رامنځته شوی دی. د خالصه واردوونکي په توګه چین هم له دې بهیر څخه برخمن شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې سږ کال د یو بیرل نفتو بیې له ۷۵ امریکایي ډالرو څخه لوړې شوي چې د ۲۰۱۶ کال د دسمبر د میاشتې د ثبت شوې کچې په پرتله ۳۰ سلنه لوړوالی ښکاره کوي. د ډالرو لوړ ارزښت چې ورسره، محتده ایالاتو د ټکتانې نرخ هم لوړ کړی دی، په دې معنی ده چې په ډالرو د نومول شویو سوداګریزو توکو د وارداتو بیې د هند او چین د لګښت ځواک راکموي چې دا کار په خپل وار د سرو زرو لپاره تقاضا زیانمنه کوي.

د نفتو په بیو کې زیاتوالی کولای شي چې په منځني ختیځ کې د سرو زرو لپاره تقاضا زیاته کړي.

څلورم ګراف: د مرکزي بانکونو د سرو زرو د تقاضا په ونډه کې کموالی


د سرو زرو د تقاضا سرچینې، خالصه کلني پېرنې، په ټنو




سرچینه: د سرو زرو نړیواله شورا او د OMFIF شننه

پنځم ګراف: د مبادلوي سوداګرۍ د فنډونو تقاضا د کال په اوږدو کې ستر بدلونونه رامنځ ته کړي

د سرو زرو په تقاضا کې کال په کال بدلون، د مبادلوي سوداګرۍ فنډونو په وړاندې نور محصولات، په ټنو




سرچینه: د سرو زرو نړیواله شورا او د OMFIF شننه


په منځني ختیځ کې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۶ کلونو ترمنځ د مصرفوونکو ټولیزه تقاضا ۴۲ سلنه راکمه شوې او په ۲۰۱۷ کال کې بېرته لږ څه زیاته شوې ده. دا وضعیت په ایران، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو کې چې تر ټولو زیات پر نفتو ولاړ هېوادونه دي، د تولیداتو د کموالي له امله رامنځ ته شوی دی. د نفتو د بیو زیاتوالی د دې لامل کیږي چې د ګاټو او د دې ترڅنګ د محفلي استفادې او د کوچنی پانګونې لپاره سرو زرو ته تقاضا زیاته شي.

**د سرو زرو لیدلوری**

مرکزي بانکونه د سرو زرو په پیچلو بازارونو کې چې هلته د تقاضا بدیلې سرچینې، د پانګونې نوي محصولات او د پانګه اچوونکو ترمنځ متفاوته ډینامیکونه ستر رول لوبوي، پېرنې ترسره کوي.

د مرکزي بانکونو ترمنځ د شتمنیو زیرمو د تنوع لپاره د تقاضا زیاتوالی او د مالیاتو د راکمولو او د امریکې او د هغه د سترو سوداګریزو شریکانو ترمنځ د سوداګریزو لانجو له امله د لوړ انفلاسیون خطر دا ښکاره کوي چې کېدای شي د سرو زرو زیرمه کول به دوام وکړي. د زیرمو د اصلي اسعارو نوسانات چې د مرکزي بانک د انحراف له امله نور هم زیات شوي، د سرو زرو زیاتولو ته شدت ورکړی دی.▣

سرچینه: Global Public Investor 2018



# بهبود رشد اقتصادی، ارائه خدمات عامه و ایجاد اشتغال

موافقتنامۀ به ارزش ۳۵۰ میلیون دالر کمک بلاعوض میان دولت افغانستان و بانک جهانی بمنظور حمایت از روند اصلاحات به امضاء رسید.

محترم محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء و شوبهم چوهدری، رییس بانک جهانی برای افغانستان، بتاریخ ۸ اسد ۱۳۹۷ موافقتنامۀ کمک بلاعوض به ارزش ۳۵۰ میلیون دالر را غرض حمایت از روند اصلاحات امضاء نمودند.

این اصلاحات طوری طرح و پلانگذاری گردیده تا عملکرد و چگونگی ارائه خدمات را توسط دولت بهبود بخشیده و مؤثریت آنرا بالا ببرد که در نتیجه باعث افزایش عواید و بهبود در عرضه این خدمات گردد. هدف بسته جدید کمک مالی بلاعوض حمایت از اصلاحات درعرصه محیط کار و تجارت، سکتور انرژی و مدیریت زمین بوده، که در نهایت منجر به ارتقای رشد اقتصادی، ایجاد زمینه های اشتغال و کاهش فقر در میان افغانها میگردد.

هدف از این کمک بانک جهانی، حمایت از اصلاحات در مطابقت و هماهنگی با چارچوب ملی صلح و انکشاف افغانستان می باشد که این کمک ها متضمن ایجاد فضای مناسب و پایدار برای توسعۀ اقتصاد بزرگ، حمایت از سرمایه گذاری بخش خصوصی، رشد اقتصادی، کاهش فقر و بهبود مدیریت مالی عامه می باشد.

۳۰۰ میلیون دالر کمک بلاعوض بمنظور حمایت از پروگرام مشوق تمویل بودجه ملی (کمک بلاعوض پالیسی انکشافی) که شامل ۹۰ میلیون دالرتوسط اداره انکشاف بین المللی، بخش منابع مالی برای فقیرترین کشور های جهان، و ۲۱۰ میلیون دالر وجوه متباقی از طریق صندوق بازسازی افغانستان، که توسط بانک جهانی به نمایندگی از ۳۴ تمویل کننده مدیریت میشود، فراهم گردیده است. هدف این پروگرام فراهم آوری وجوه مورد نیاز غرض حمایت از ادامه تلاش های دولت بخاطر حفظ شرایط و محیط پایدار برای اقتصاد کلان و تدوین و تطبیق پالیسی اصلاحات اساسی و جامع بمنظور پشتیبانی از سرمایه گذاری سکتور خصوصی، رشد اقتصادی، کاهش فقر و بهبود مدیریت مالی عامه میباشد.

همچنان مبلغ ۵۰ میلیون دالر کمک بلاعوض بمنظور حمایت از پروژه مشارکت سکتور عامه و خصوصی و مشورت دهی برای سرمایه گذاری عامه، که هدف آن تامین منابع مالی غرض طرح و دیزاین پروژه های سکتور عامه و خصوصی میباشد، اختصاص داده شده است. از مجموع این کمک بلاعوض ۲۰ میلیون دالر آن توسط اداره انکشاف بین المللی گروپ بانک جهانی و ۳۰ میلیون دالر وجوۀ باقیمانده آن توسط صندوق بازسازی افغانستان فراهم گردیده است.

قابل تذکر است که این موافقتنامه ها در حضور هارتوگ شفر که اخیراً منحیث معاون بانک جهانی برای حوزه جنوب آسیا تعیین گردیده است، صورت گرفت. محترم هارتوگ شفر اکنون در جریان دیدار از افغانستان میباشد و قرار است با مقامات دولتی و شرکای بین المللی روی موضوعات چگونگی تطبیق پروسه اصلاحات و برنامه های انکشافی دیدار و گفتگو نماید.

هارتوگ شفر حین ابراز نظر در مورد پروژه مشارکت سکتور عامه و خصوصی و مشورت دهی برای سرمایه گذاری عامه، گفت که بدون شک این پروژه اقدامیست جهت به حد اکثر رساندن منابع موجود مالی در راستای انکشاف و بازسازی افغانستان. پروژه متذکره از طریق بسیج نمودن سرمایه گذاران خصوصی و استفاده از آن به حیث سرمایه های بزرگ، میتواند نقش نهایت مهم و پیشرفت های قابل ملاحظه بمنظور حمایت از اولویت های انکشافی افغانستان داشته باشد. این مشارکت نه تنها برای دولت، بلکه برای سکتور خصوصی و درکُل تمام مردم افغانستان ممد واقع میگردد.▣

**منبع:**


1. http://www.worldbank.org/fa/news/press-release/2018/07/30/improving-growth-public-services-job-creation-in-afghanistan

# د افغانستان زعفران بیا هم په لومړي مقام کې

افغانستان په نړۍ کې د زعفرانو څلورم تولیدوونکی او دریم صادروونکی هېواد دی، خو د زعفرانو په ښه کیفیت لرلو کې د څلورم ځل لپاره په پرله پسې توګه لومړی مقام خپل کړ.

سږ کال د افغانستان زعفران د کیفیت په لحاظ د هند، ایران، پاکستان او ځینې نورو هېوادونو ترمنځ په نړیوال فستیوال کې چې په بلجیم کې جوړ شوی وو، لومړی مقام خپل کړ. په افغانستان کې د زعفرانو کښت زیات شوی او په ټول افغانستان کې ۶.۱۰ ټنه زعفران تولید شوي دي چې کال تر بل کال دا تولید مخ په ډېرېدو دی.

ویل کېږي د زعفرانو د تولید په زیاتیدا سره به له یوې خوا د افغان بزګرو اقتصاد پیاوړی شي او له بل پلوه به د کوکنارو ځای ناستی کښت وي، چې پرته له کوم قانوني بندښت څخه بزګران دې کښت ته دوام ورکړي. افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کرنېزو محصولاتو د ودې لپاره بېلابېل پرواګرامونه طرحه کړې دي. د بېلګې په ډول د افغانستان دولت په تېره یوه لسیزه کې د کرنې د ودې لپاره په هېواد کې بزګرانو ته د زده کړو زمینه او همداشان کرنېز وسایل او اصلاح شوي تخمونه برابر کړې دي. سربیره پر دې



دولت په سیمه ایز ه او نړیواله کچه هم د هېواد د تولیداتو د ودې لپاره لاره هواره کړې ده.

د افغانستان کرنېز اقتصاد، له دریو څخه د کورني ناخالص تولید لږ تر لږه یوه برخه جوړوي او په سلو کې اتیا افغانانو ته یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار کولو لار هواره کړې ده. له همدې امله دا سکټور د ودې یوه مهمه برخه شمېرل کېږي. د افغانستان اقتصادي ودې ته په کتو که چیرې په هېواد کې د زعفرانو تولید زیات شي کورنی نا خالص تولید به زیات او اقتصادي وده به غښتلې شي.

افغانستان د ښې هوا او اوبو د لرلو له امله د زعفران د کښت لپاره مناسب ځای ګڼل کېږي او د لومړنیو څېړنو پر بنسټ کهچېرې دغه صنعتي بوټی په لازمه توګه وکرل شي؛ د زعفرانو حاصلات به د نورو هېوادونو په پرتله درې برابره زیاتوالی پیدا کړي.

هرات د افغانستان د زعفرانو تر ټولو ستر تولیدونکی ولایت دی. پر افغانستان سربېره د نړۍ شاوخوا ۳۰ هېوادونه زعفران کري او تولیدوي چې ایران او هند یې په سر کې دي. ایران تېرکال ۳۳۶ ټنه او هند ۲۲۰ ټنه زعفران تولید کړي وو، افغانستان بیا په دې موده کې ۱۰۶ ټنه زعفران تولید کړي وو. دیادونې وړه ده چې د کیفیت او مزې نړیوال انستیټوت په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان زعفران په نړۍ کې تر ټولو ښه زعفران ونومل.

»

د کلیوالو سیمو ۸۵٪ څخه تر ۹۰٪ وګړي په کرنې او مالدارۍ بوخت دي او د ټول هېواد ۷۶٪ وګړو په معیشیت کې خورا ارزښتمن رول لوبوي. په دې وروستیو کلونو کې کرنه او مالداري د افغانستان ۲۵٪ ناخالصه کورني تولیدات په بر کې نیسي. که څه هم، د تېرې درې لسیزې جګړې له امله د کرنې او مالدارۍ سکټور خورا ډېر زیانمن شو، خو د څو کلنو راهیسې حکومت، ښکیلو اړخونو او بزګرانو لپاره هڅه کوي لارې چارې برابرې کړي چې د کرنې او مالدارۍ سکټور بیا را ژوندی کړي. په افغانستان کې د کرنیز اقتصاد پرمختګ او کرنیزو توکو د پروسس په برخه کې ډېر تاکید کیږي، ځکه چې دواړه برخې په کور دننه تولیدي توکو او لګښت په برخه کې په ځانګړې توګه د ټول هېواد په اقتصادي پرمختګ کې خورا مهم رول لوبوي.

زعفران یو قیمتي کرنیز محصول دی چې د افغانستان په شان په لږ اوبه لرونکو سیمو کې ښه کرل کیږي، خو د حاصل ټولول او پالل یې په نسبي ډول زیات زحمت ته اړتیا لري. افغان بزګرانو سږ کال د زعفرانو له پراخ حاصل څخه ښه لاسته راوړنه لرله، ځکه چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت داسې پلانونه اعلان کړل چې په دغه ګټور ژېړ رنګي بوټي لا نوره پانګونه وکړي.

د افغانستان د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، دا مهال په نړیوالو مارکیټونو کې یو کیلو زعفران ۱۶۰۰ ډالر دي، په داسې حال کې چې په ۲۰۰۰ کال یوازې ۲۰۰ ډالر کېدل. د اروپا، امریکا او آسیا د بېلابېلو هېوادونو په ۳۷۰ ډوله زعفرانو کې، چې د بروکسل د خوراکي موادو ننداړتون ته وړاندې شوي وو، افغانستان د ۲۰۱۵ کال د غوره زعفرانو ستایلنلیک او د سرو زرو ستوری ترلاسه کړ.

غوریان، زنده جان، اوبې، ګذره او پښتون زرغون د هرات ولایت له هغو مهمو ولسوالیو څخه دي چې د زعفرانو زیاته کرکیله یې ځانته ځانګړې کړې ده.

د هېواد د زعفرانو د کروندګرو د ټولنې مسئولینو په وینا د زعفرانو د تولید، پروسس، انډې کولو، بازار موندنې او د صادراتو په برخو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو په تیره بیا په هرات ولایت کې زرګونو تنو هېوادوالو ته دکاري فرصتونو او زمینو د رامنځته کولو په موخه یې لارې چارې هوارې کړې دي. د زعفرانو کښت آسان دی، ځکه اوبه لږ غواړي او یوځل یې چې پیاز وکرل شي، څو کاله پرله پسې محصول ورڅخه ټولیدلی شي. که د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د زعفرانو کښت دود شي، د دې تر څنګ چې د کوکنارو ښه بدیل ګرځي او د تریاکو د له منځه وړلو سبب کیږي، ډېرې نورې اقتصادي ښېګڼې به هم له ځان سره ولري. چې له دې ښېګڼو به یوه یې د کهوالۍ مخنیوی وي، د بېلګې په توګه که په اوسنیو شرایطو کې په ۴۰۰۰ هېکټاره ځمکه کې زعفران وکرل شي، کابو ۱۰۸۰۰۰۰ تنه به په کار وګومارل شي.

له نېکه مرغه د افغانستان دولت هم د هېواد بزګرانو ته د زعفرانو کښت، د تریاکو د ښه بدیل په توګه ور پېژندلی او هڅه یې کړې چې کښت یې ټولو ولایتونو ته وغځوي. ډېری بزګران چې پخوا د تریاک په کښت بوخت وو اوس یې د زعفرانو کښت ته مخه کړې؛ آن داسې چې اوس عملاً د هېواد لویدیځ ولایتونه له کوکنارو او تریاکو پاک شوي او ځای یې زعفرانو نیولی.▣

حمیدالله فیضي

اخیستنې:


1. https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2015/11/151104_ns_saffron_festival_herat
2. https://www.nunn.asia/79616
3. http://www.spogmairadio.af/index.php/newa/economic/item/3302-2018-06-07-11-17-24



# بانک‌های مرکزی جهان در تلاش افزایش ذخایر طلا

یکی از وظایف بانک های مرکزی نگهداری و ادارهٔ ذخایر اسعار یا دارایی‌های ملی است. بانک‌های مرکزی جهان خصوصاً کشورهای در حال توسعه تلاش می‌ورزند تا ذخیرهٔ دارایی های خارجی خود را بگونهٔ تنظیم نمایند تا علاوه بر حفظ ارزش پول ملی خود، در زمان نیاز بتوانند از آن بصورت سهل استفاده کنند. در شرایط کنونی با توجه به وضعیت ناهموار سیاسی - اقتصادی جهان، خرید طلا بمنظور ذخیرهٔ دارایی‌ها، گزینه ای خوبی بانک‌های مرکزی جهان بشمار می‌رود که این روند بگونهٔ روز افزون در حال افزایش است. دارایی‌های سنتی در حال حاضر نقش استراتیژیکی را برای بانک‌ها ایفا می کند. طلاهای ذخیره شدهٔ یک کشور نه تنها به حیث وسیلهٔ مدافعه ای اوضاع وخیم بازار بکار می‌رود، بلکه در شرایط عادی نیز سطح اعتماد مردم را بالا می‌برد.

از دیدگاه سیاست اقتصادی، داشتن ذخایر طلا باعث ثبات اقتصادی شده و سطح اعتماد را افزایش می‌دهد. رئیس فدرال ریزرف ایالات متحدهٔ امریکا می گوید که نظر به شواهد سال ۱۹۹۹ قبل از ایجاد کمیتهٔ بانکداری مرکزی، پول کاغذی (بدون پشتوانه) را هیچ کس در داد و ستد خویش استفاده نمی کرد و در عوض طلا همواره به حیث وسیلهٔ مهم پرداخت مورد استفاده قرار می گرفت.

طلا در اکثریت کشورها مورد استفاده قرار می گیرد. این فلز گرانبها تحت معیار طلا در نیمهٔ دوم دههٔ ۱۸۰۰ و در سیستم Bretton Woods که پس از جنگ جهانی دوم ایجاد گردیده بود، در میان سایر دارایی‌ها و وسایل داد و ستد بگونهٔ واقعی نقش مرکزی را بخود اختصاص داده است. پس از آنکه نقش پولی طلا عزل گردید بانک‌های مرکزی کشورهای مترقی آنرا به حیث وسیلهٔ سرمایه گذاری مورد استفاده قرار دادند که نظر به حجم زیاد ذخایر طلا نزد بانک‌های مرکزی نرخ تکتانهٔ آن در بازار سپرده‌ها کاهش یافته و در عین زمان قیمت خود طلا در بازارهای معاملات نقدی نیز کاهش یافت.

دلیل کاهش نرخ مبادله و بی ثباتی بازارها، عدم هماهنگی برنامه‌های فروش طلا میان بانک‌های مرکزی گفته شده است. در این خصوص میتوان گفت که مشتریان از اینکه چه زمانی و به چه مقدار طلا از سوی بانک‌های مرکزی بفروش »

میرسد، آگاهی نداشتند بالاخره این مسئله در سال ۱۹۹۹ پس از اینکه بانک ها بصورت جمعی به این تفاهم رسیدند که بیشتر از ۲۰۰۰ تُن طلا (بطور مجموعی) را در ۵ سال متواتر و بیشتر از ۴۰۰ تُن را در طول یک سال بفروش نرسانند، حل شد و مجدداً به اعتبار طلا افزوده شد.

پس از بحران مالی ۲۰۰۸ فروش طلا در ابتدا کاهش و متعاقباً متوقف گردید. چهارمین موافقت نامهٔ بانک‌های مرکزی در قسمت فروش طلا در سال ۲۰۱۴ به امضاء رسید که در این موافقت نامه محدودیت فروش طلا در طول سال، ذکر نگردیده است. در عوض، جوانب امضاء کننده اظهار داشتند که قصد آنها از قید نکردن مقدار فروش طلا بدین معنی نیست که طلا با مقدار بزرگ بفروش برسد. باید گفت که امضاء کنندگان این موافقت نامه اکثراً بانک‌های مرکزی کشورهای مترقی بوده اند.

از لحاظ تاریخی، کشورهای که این موافقت نامه را امضاء کرده اند از ذخایر بزرگ برخوردار بوده که به حیث تضمین سیستم معیار طلا مورد استفاده قرار می‌گیرد. این کشورها دارای ذخایر بزرگ طلا در جهان می‌باشند. این در حالیست که تعداد کثیر از کشورها در بازارهای در حال انکشاف وجود دارد که جزء این سیستم نبوده و از ذخایر مجموعی قابل ملاحظهٔ برخوردار نمی باشند. در این اواخر ذخایر طلای روسیه و چین بگونهٔ قابل ملاحظه افزایش یافته است. این روند نمایانگر تلاش این کشورها برای مقابله با دالر امریکایی و افزایش قدرت سیاسی آنها می‌باشد.

## برگرداندن ذخایر طلا توسط بانک‌های مرکزی

بی‌اعتمادی روی نظام مالی بین المللی و خطرات بالقوه در ذخایر کشورهای بیرون مرزی، بگو مگوها در میان افراد اجتماع در کشورهای در حال توسعه را افزایش داده که در نتیجه بانک‌های مرکزی را برای برگرداندن ذخایر طلای شان از کشورهای مترقی به کشور خود وا داشته است.

بُندیس بانک آلمان در امر بازگرداندن ذخایر طلای خود، یکی از بانک های مرکزی پیشگام این پروسه بوده است. در ماه جنوری سال ۲۰۱۳ این بانک اعلام کرد که این بانک قصد دارد تا نصف ذخایر طلای خود را الی سال ۲۰۲۰ به خزانهٔ خود انتقال دهد. در حقیقت این روند در سال ۲۰۱۷ به پایان رسید. دلیل این اقدام ایجاد و تأمین اعتماد در نظام مالی داخلی بوده و در عین حال حفظ و نگهداشت فلزات قیمتی بگونهٔ مجانی، عنوان شده است.

طلا به حیث ذخایر دارایی سنتی عاری از هرگونه خطر بوده که با توجه به این امتیاز این فلز گرانبها جایگاه خود را یک بار دیگر احیا و تثبیت نمود. با توجه به اعتبار جهان شمول که طلا دارد، بانک های مرکزی یک بار دیگر به این فلز رجوع کرده و اخیراً برای افزایش طلای خود تلاش دارند.▣

منبع: Global Public Investor 2018

برگردان: سید نورحسین میرزاد

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د نړیوال بانک له استازو سره وکتل

د ۱۳۹۷ کال د زمري میاشتې ۲۲ مه نېټه – د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د نړیوال بانک د استازو په شمول، د عدلیې، مالیې او ښار جوړونې وزارتونو له پلاوو سره د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې د کتنې پرمهال په مالي اړینو موضوعاتو هر اړخیزې خبرې وکړې.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر وویل چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې د بانکي مشتریانو او مالي چارو د ګرندیتوب لپاره داسې پالیسۍ رامنځته کړي چې د اسانتیاوو ترڅنګ مالي چارې چټکې کړي.



دغه راز په غونډه کې ګډونوالو له خوا د صکوکو په قانون، اسلامي پالیسیو او اسلامي پور ورکونې په اړه خبرې وشوې او هغوی زیاته کړه چې د عدلیې وزارت هم باید د صکوکو قانون د تصویب او نافذ کیدو د مراحلو د بشپړولو لپاره چارې چټکې کړي.

دیادونې وړ ده چې د نړیوال بانک استازو هم د افغانستان بانک له کړنو څخه خوښي وښوده او زیاته کړه چې د افغانستان بانک سره په مالي موضوعاتو خبرې اترې دوام لري او راتلونکې میاشت کې به په دې اړه بله غونډه ترسره شي.▣

# جلسه ای روی تطبیق مرحله دوم سیستم های ثبت اعتبارات عامه تدویر یافت

کابل، ۱۳ اسد ۱۳۹۷–د افغانستان بانک با درنظرداشت پیشرفت در سیستم های بانکداری و تجهیز آنها، درجهت تطبیق مرحله دوم سیستم های ثبت و اعتبارات عامه و ثبت حقوق رهنی براموال منقول پلان های را روی دست دارد. به همین منظور جلسه ای تحت ریاست محترم واحد الله نوشیر معاون اول د افغانستان بانک به اشتراک تیم کاری آمریت عمومی ثبت اعتبارات عامه و آمرین مشاوریت حقوقی، نظارت امور مالی و سیاست پولی تدویرگردید.

ابتدا محترم واحد الله نوشیر معاون اول د افغانستان بانک روی اهمیت سیستم های ثبت اعتبارات عامه وثبت حقوق رهنی براموال منقول در نظام بانکی افغانستان صحبت نموده و تطبیق این برنامه را برای توسعه و گسترش هرچه بیشترسیستم های ثبت اعتبارات عامه درکشور مؤثر خوانده و د رزمینه برای بخش های ذیربط هدایات لازم داد.



سپس سید عزیز الله سادات آمر عمومی ثبت اعتبارات عامه پیرامون موضوع صحبت نموده و در رابطه به تکمیل و تطبیق مرحله متذکره آمادگی کامل آمریت را اعلام نمود.

هدف عمده این نشست، استفاده از سیستم های ثبت اعتبارات عامه توسط ارگان های غیر مکلف که از لحظا قانونی تحت نظارت د افغانستان بانک قرار ندارند و هم چنان آوردن تعدیلات در برخی از موارد در قانون رهنی اموال غیر منقول در معاملات بانکی به منظور ایجاد چارچوب قانونی جهت ایجاد سیستم ثبت اموال غیر منقول بود که در این زمینه قبلاً با بانک جهانی و اداره مالی بین المللی تفاهم صورت گرفته است.▣

# حریق بانکنوت های مندرس افغانی در زون غرب د افغانستان بانک

هرات، ۷ و ۸ اسد ۱۳۹۷- بتأسی از مفاد ماده های ( ۳۹ و ۴۲) قانون د افغانستان بانک و متکی به حکم شماره ۸۲۸ مقام ریاست د افغانستان بانک و با در نظرداشت طرزالعمل دست داشته، بانکنوت‌های مندرس افغانی تحت نظر هیئت محترم پروسهٔ محو بانکنوت های مندرس و نا مناسب بعد از چک و شمارش دقیق در زون ساحوی غرب د افغانستان بانک حریق گردید.


محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک، حریق بانکنوت های مندرس را یک روال عادی عنوان نموده و افزود که بانکنوت های فرسوده همه ساله توسط نماینده‌گی های د افغانستان بانک در سطح کشور جمعآوری و سپس در محلات مخصوص درحضورداشت نماینده‌گان ادارات ذیربط حریق می گردد.

محترم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک به ادامه سخنانش افزود که مردم عزیز ما باید حین خرید و فروش و داد و ستدهای اقتصادی در زمینه استفاده درست افغانی توجه جدی نموده و برای جلوگیری از مندرس شدن زود هنگام آن سعی نمایند. هموطنان ما در نگهداری درست بانکنوت‌های افغانی از بکس های جیبی استفاده نمایند، زیرا در چاپ مجدد بانکنوت ها، پول هنگفت از بودجه دولت هزینه می شود که در صورت جلوگیری از مندرس شدن زود هنگام بانکنوت ها، می توان آنرا در سایر پروژه های عمرانی و زیربنایی کشور به مصرف رساند.

باید یادآور شد که هیئت مؤظف پروسهٔ حریق بانکنوت ها ترکیبی از نماینده گان وزارت های مالیه و عدلیه، شورای ملی جمهوری اسلامی افغانستان و د افغانستان بانک می باشد.

بانکنوت های مندرس حریق شده در انواعیه ۱، ۲، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ و ۱۰۰۰ افغانیگی بوده که جمعاً به تعداد ۲۱،۹۲۴ بندل گردیده و ۱،۱۹۸،۳۱۵،۰۰۰ یک میلیارد و یکصد و نود و هشت میلیون سه صد و پانزده هزار افغانی را احتوا می کرد. ▣







## د افغانستان بانک اداري غونډه کې پر همکارۍ او همغږۍ ټینګار وشو

د ۱۳۹۷ کال د زمري ۲ مه – د افغانستان بانک دویم مرستیال د اړوندو آمریتونو په ګډون د اداري غونډې په ترڅ کې د همکارۍ او همغږۍ ترڅنګ په بېلا بېلو موضوعاتو خبرې او اترې وکړې او له اړوند آمرینو څخه یې د لا همکارۍ غوښتنه وکړه.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د آمریتونو د ستونزو له اوریدو وروسته د حل لارې په موخه بېلابېلو آمریتونو ته لازمې لارښوونې وکړې او له آمرینو څخه یې وغوښتل چې د مالي چارو د ښه والي او پرمختګ په موخه باید همکاري او همغږي ته پراختیا ورکړي.

ښاغلي رحیمي زیاته کړه چې د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی هڅه کوي چې د چارو د ښه والي او د یوه عصري مالي سیستم د رامنځته کیدو په موخه چارې وړ، با استعداده او ځواکمنو مدیرانو ته وسپاري، څو د افغانستان د اقتصادي غښتلتیا لامل وګرځي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په اداري غونډه کې د دویم مرستیال په ګډون د بېلابېلو آمرینو او د یوشمېر آمریتونو مرستیالانو هم ګډون کړی وو.▣

## د افغانستان د ګمرکاتو د کارکوونکو لپاره د مشکوکو مالي معاملاتو د راپور ورکونې په اړه ښوونیز پروګرام

کابل، د ۱۳۹۷ کال د زمري ۱۱ مه- د افغانستان بانک د مالي معاملاتو او راپورونو د څېړنې مرکز د پیسو د لیږد د مقررې، د مالي چارو په اړه د همکارۍ او همغږۍ، پیسو وینځلو او مالي مشکوکو معاملاتو د راپور ورکونې په اړه د سرحدي او مرکزي ګمرکونو کارکوونکو ته د عامه پوهاوي پروګرام په لاره واچوه.

د دې پروګرام موخه د قانوني تعذیراتو، پیسو وینځلو، د پیسو د لیږد مقررې او مالي مشکوکو معاملاتو په اړه د راپور ورکولو د پروسې کړندیتوب او معلوماتو راټولول دي.

د افغانستان د نافذه قوانینو له مخې د افغانستان سرحدي او مرکزي ګمرکونه اړ دي چې د مشکوکو مالي معاملاتو په اړه د افغانستان بانک د مالي معاملاتو او راپورونو د څېړنې مرکز ته راپور ورکړي.

د افغانستان د مالي معاملاتو او راپورونو د څېړنې مرکز مرستیال ښاغلي خیبر منصف د ښوونیز پروګرام په ترڅ کې وویل چې هڅه کوي د مشکوکو مالي معاملاتو د راپور ورکونې په برخه کې ښه والي رامنځته شي او له همدې لارې د افغانستان مالي سیستم له ستونزو او ننګونو خلاص او په هېواد کې د یوه عصري مالي سیستم لپاره لار هواره شي.

دغه راز د ګمرکاتو او مالیاتو د اکاډمۍ آمر ښاغلي ایمل عمري د مالي معاملاتو او راپورونو د څېړنې مرکز له خوا د دې ښوونیزو پروګرام په لاره اچول یو اړین ګام وباله او د دې ښوونیز پروګرام له دایریدو خوښي وښوده، ځکه چې د پیسو کنټرول د دولت لومړیتوب دی او د همدې لپاره هغه مالي معاملې چې له قانون سره په ټکر کې وي د ګمرکونو کارکوونکي اړ دي چې په اړه یې د مالي معاملاتو د راپورونو د څېړنې مرکز ته کره راپور واستوي.

د یادونې وړ ده چې دغه ښوونیز یو ورځنی پروګرام، د افغانستان بانک د مالي معاملاتو د راپورونو د څېړنې مرکز په تخنیکي همکارۍ د ګمرکاتو او مالیاتو په اکاډمۍ کې د کابل ولایت د ګمرک سربېره د سرحدي ګمرکونو ۵۵ تنو کارکوونکو لپاره په لاره اچول شوی وو.▣

## ورکشاپ تشریح خصوصیات ایمنی بانکنوت‌های افغانی

هرات، ۹/ اسد/۱۳۹۷- ورکشاپی تحت عنوان تشریح خصوصیات ایمنی پول افغانی از جانب آمریت عملیات بانکی برای تعدادی از کارمندان زون غرب د افغانستان بانک و نماینده‌گان بانک های دولتی و خصوصی در زون غرب د افغانستان بانک برگزار گردید.

در آغاز این ورکشاپ محترم انورشاه یوسفی آمر زون غرب د افغانستان بانک پیرامون موضوع صحبت نموده گفت که بانکنوت های افغانی دارای خصوصیات ایمنی تخنیکی بوده و از کیفیت خوبی برخوردار است که به وضوح میتوان آنرا با پول های جعلی تفکیک کرد.

متعاقباً محترم میر عزیز برکی آمر عمومی عملیات بانکی ضمن صحبت تفصیلی در مورد ساخت و خصوصیات بانک نوت‌های افغانی، خصوصیات ایمنی و کیفیت آن از اشتراک کننده گان تقاضا بعمل آورد تا در زمینه فرهنگ سازی برای استفاده درست از پول ملی و چگونگی تدابیر برای جلوگیری از مندرس شدن زودهنگام آن تشریک مساعی به خرج دهند.

در ختم این ورکشاپ به سوالات تخنیکی اشتراک کننده‌گان پاسخ ارائه گردید.▣

## جلسۀ بورد نظارت شرعی د افغانستان بانک دایر گردید



کابل، ۱۳ اسد ۱۳۹۷- د افغانستان بانک جلسۀ نوبتی بورد نظارت شرعی را روی چگونگی خدمات و گسترش معاملات بانکداری اسلامی تدویر نمود.

این نشست از سوی معاونیت بانکداری اسلامی آمریت نظارت امور مالی د افغانستان بانک، روی مسایل مختلف خدمات بانکداری اسلامی جهت سهولت هر چه بیشتر برای هموطنان محترم، مرور پالیسی ها، مقرره ها و مسائل شرعی "دریچۀ بانکداری اسلامی" در بانک‌های افغانستان برگزار گردید.

اعضای بورد نظارت شرعی، بیشتر روی تحقق و ضرورت نظام بانکداری اسلامی در افغانستان تأکید نموده، زیرا در صورت گسترش بانکداری اسلامی، باشنده‌گان کشور علاوه بر اینکه پول های راکد و ذخیره شده خویش را به بانک ها می سپارند، در کنار آن معاملات و داد و ستد های اقتصادی خود را نیز از طریق بانک ها انجام خواهند داد.

قابل یادآوری است که در این جلسه داکتر عبدالله لودین معاون بانکداری اسلامی نظارت امور مالی د افغانستان بانک، داکتر محمد مصطفی نیازی رئیس بورد نظارت شرعی، داکتر ولیزار جهانتاب معاون مقرراتی بانکداری اسلامی، داکتر محمد اکرم لال و سید خالد عزیز اعضای بورد نظارت شرعی اشتراک نموده بودند.▣

## تلاش برای ارائه معلومات اعتباری دقیق به مشتریان



کابل ۱۶ و ۱۷ اسد سال ۱۳۹۷، آمریت ثبت اعتبارات عامه د افغانستان بانک به منظور تطبیق پلانهای مرحله دوم سیستم ثبت اعتبارات عامه، را نشستی‌در مقر بانک جهانی با اشتراک مشاورین مؤسسه مالی بین المللی(IFC)، مسئولین ارشد بخش کریدت بانک های خصوصی، مؤسسات کوچک مالی و ادارات و یا نهاد های غیر مکلف دایر نمود.
محترم سید عزیز الله سادات آمر ثبت اعتبارات عامه گفت که هدف اساسی از تطبیق این مرحله استفاده از میتود های معاصر غرض جمع آوری معلومات اعتباری از سایر ارگان های غیر مکلف در گزارش های اعتباری می باشد. تطبیق این سیستم باعث شد دسترسی به وجوه مالی، مؤثریت بهتر در کاهش خطرات مالی، تصمیم گیری بهتر در امور قرضه دهی می شود.

آمریت ثبت اعتبارات عامه طبق پلان استراتیژی پنج ساله د افغانستان بانک در نظر دارد تا به منظور سرعت بخشیدن در معاملات بانکی، ارائه معلومات کُلی در مورد تضمینات غیر منقول و ایجاد حق تقدم به افراد و ادارات ذینفع، سیستم ثبت حقوق رهنی بر اموال غیر منقول را در آینده های نزدیک ایجاد نماید. ایجاد سیستم متذکره نیازمند یا مستلزم بستر قانونی مربوط است، که بنا بر آن آمریت ثبت اعتبارات عامه پیش نویس تعدیلات در قانون رهن اموال غیر منقول را از قبل ترتیب و در جلسه متذکره مورد بحث قرار داد.

بر مبنای این موضوع آمریت ثبت اعتبارات عامه تلاش می ورزد تا معلومات اعتباری دقیق را برای مشتریان و نهاد های ذیربط و متقاضی در هر مقطع زمانی تقدیم کند. قابل یاد آوری است که تا الحال در این رابطه سه جلسه با نهادی مختلف صورت گرفته است.▣

## د افغانستان بانک د فراه او نیمروز ولایتونو د استازندویه دفترونو د تشو بستونو د ډکولو لپاره ازموینه واخیستل شوه

کابل، د ۱۳۹۷ کال، د زمري۳ مه – د افغانستان بانک د کارکوونکو د ګمارنې په پروسه کې په روڼوالي ټینګار کوي او په همدې ترڅ کې یې د فراه او نیمروز ولایتونو د استازندویه دفترونو د تشو بستونو د ډکولو په موخه له ۶۵ کسانو څخه تحریري ازموینه واخیستله.

د افغانستان بانک د بشري سرچینو آمریت لوی آمر، ښاغلي بشرمل پسرلي وویل چې په ګمارنه کې د روڼوالي او ضوابطو ته د لومړیتوب ورکولو په موخه د ټولو ولایتې ګمارنو ازموینې په پلازمینه کابل کې اخیستل کیږي چې موخه یې روڼوالی او د تشکیلاتي جوړښت د ښه تنظیم لپاره د استعداد لرونکو او په لوړو زده کړو د سمبال وګړو په دندو ګمارل دي.

د بشري سرچینو لوی آمر همدا راز د ازموینې پروسې ګډونوالو ته ډاډ ورکړ چې د افغانستان بانک د آزموینې پروسه ډیره رڼه او پاکه ترسره کیږي او د هر ډول ستونزې د لیدو پرمهال ګډونوال کولای شي، خپل شکایت له د افغانستان بانک سره شریک کړي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د ټولو ګمارنو لپاره یوه رڼه پالیسي لري چې د هغې له مخې لومړی تحریري ازموینه اخیستل کیږي او په هغه صورت کې چې د ازموینې ګډونوال په تحریري ازموینه کې بریالي شي، بیا مرکې ته غوښتل کیږي او په مرکه کې له بریالیتوب سره سم په د افغانستان بانک اړوند بست کې په دنده ګمارل کیږي.▣

# برنامهٔ آموزشی دو روزه جهت ارتقای ظرفیت کارمندان ساحوی آمریت عمومی نظارت امور مالی تدویر گردید





